Paschtu

داد ستانی هامبورگ

بست بکس ۳۰۵۲۶۱
۲۰۳۱۶ هامبورگ

## یادونه

**مهرباني وکړئ په دقت سره ولولئ!**

### د جريمې پلې کولو لپاره

تاسې دمحکمې د نهايې پريکړې په اساس جريمه شوي ياست. که تاسو مخکې جريمه په بشپړ ډول تحويل کړې وي، تاسو ته اړتيا نه شته ددې معلوماتو لوستلو ته دوام ورکړئ.

**د جريمې د نه تحويلولو پايلې**
که چيرې جريمه د يادونې د ترلاسه کولو وروسته بيا هم په ټاکلې موده کې تحويل نه شي، څارنوالې مکلف ده چې جريمه په اجباري توګه وصول کړي. دا کيدای شي، د بيلګې په توګه، ستاسو د منقولو شتمنيو يا ستاسو د کار عايد ضبط شي.

که د جريمې وصول ناکامه شي يا له لويه سره د برياليتوب هيله موجوده نه وي، د بديل زندان سزا پلې کولو امربه و شي. که تاسو په خپله رضا په احضار نامه کې ياده شوې موده کې د سزا پلې کولو ته حاضر نه شئ، ، څارنوالې به ستاسې د نيولو امر صادر کړي.

**د جريمې د تحويلولو اسنتياوی**
که تاسو نشئ کولی ټول جريمه په يوځل تحويل کړئ، کيدای شئ د بديل بندي کولو سزا څخه د منخنيوي په موخه جريمه په قسطونو تحويل شي. يا په استثنايي ډول د لنډمهاله مودې لپاره و ځنډول شي، خو د سزا هدف بايد و ساتل شي.

**غير انتفاعي کار**
که تاسو نشئ کولی په مناسب وخت کې جريمه تحويل کړئ، امکان موجود دی چې د ټولنيز خدمت په کولو سره د بديل زندان سزا پلې کولو څخه مخنيوی وکړئ. د ټولنې خدمت بې معاشه کار دی، د بيلګې په توګه په ټولنيزو اداروکې. غير انتفاعي کار يوازې د آلمان د فدرالې جمهوريت په خاوره کې ترسره کيدی شي.

**غوښتنليک**
د جريمې د تحويلولو اسانتيا او يا د غير انتفاعی کار کولو لپاره بايد څانوالی ته ددوسې د شميری سره سم يو غوښتنليک وړاندې کړئ. د خپل غوښتنليک سره بايد د خپل اوسنی اقتصادی وضعې په اړه اسناد ضميمه کړئ.

په دې اړه نور معلومات – هم په مختلفو ژبو – په لاندې پته کې موندل کيدی شي:

INFO

